# دَ بونېر په سيمه امن مشاعره

باچا ترمذي

بونېر دَ اووهٔ لکه خلقو مسکن چې په تېره مې، جون، جولائي او اګست څلورو ګرمو مياشتو کښې دَ فوځي اپرېشن په ضد کښې ؤ چې ترې درې لکه خلقو هجرت کړے ؤ. په مردان، صوابۍ، پېښور وغېره سيمو کښې ئې پناه اخستې وه. دَ اګست په اخره کښې چې بونېر ته واپس شو، سکولونه وران وو، کلي کورونه په بمونو او ټېنکونو په ګوليو سوري سوري شوي وو او دَ بادشاه سلطان او پس ګرمائي دارالخلافه سلطانوس اوس هم دَ موهنجو داړو نمونه پېش کوي. تېرو څلورو مياشتو ستمبر، اکتوبر، نومبر او دسمبر کښې دَ بونېر خلق خپل کور، کلي، علاقه کښې دَ ويرې شپې ورځې تېروي. سماجي سرګرمۍ عملاً معطل دي. هم په دې حالاتو کښې دَ بونېر نامور اديب، شاعر، سياسي او سماجي کارکن ښاغلي شمس بونيري دَ بونېر ادبي جرګه تنظيم دَ سيوري لاندې دَ دسمبر په يويشتمه نېټه په خپله دېره کښې دَ يوې ازادې، غېر طرحي امن مشاعرې انتظام وکړو چې پکښې دَ بونېر دَ ګټ ګټ سره سره دَ مردان، صوابۍ، کالاډاکه او نورو نامورو شاعرانو هم ګډون وکړو او په سختو کړکېچنو حالاتو کښې ئې يوه لويه سماجي غونډه وکړه او په بونېر کښې ئې دَ امن يو نوے پېغام خور کړو. مشاعره چې ئې دَ بمونو په وجه په خپله ورانه ويجاړه دېره کښې په جلال خان غازي خان کښې دَ صاحبزاده ماما دَ صدارت لاندې جوړه کړې وه دَ بونېر دَ دسمبر يخ موسم، يخې هواګانې هم په مشاعره اثر انداز کېدې. مشاعره چې سحر دَ يولسو بجونه تر څلورو بجو پورې جاري وه. مشاعره کښې شاعرانو خپل نظمونه، غزلونه، قطعات پېش کړل او ګډونوالو نه ئې داد واخستو. مشاعرې ته يو طرفته دَ مردان دَ سيمې مشهورو شاعرانو اکمل لېونے، سلېمان کاکاخېل، نورحمان سحر، عثمان علي عثمان او نورو مېلمنو شاعرانو په خپلو تازه شاعرۍ ښکلا ورکړه خو بل طرفته سټېج سېکرټري بحر مند غړ مېزبان شمس بونيرى دَ مقصدي شاعر علي ګوهر شاه ګوهر، بخت رحمان صياد، روشن زاده روشن، انګار، اسرار لونګين، اقبال اعزاز، سحر بونېرے او نورو مقامي بونېري شاعرانو هم څهٔ کمے پاتې نهٔ کړو.

شاعرانو په خپله شاعرۍ کښې دَ بونېر او دَ پښتونخوا دَ غېرتي خاورې حقونه، دَ پښتنو کلتور، ثقافت، تهذيب، رسم ورواج،کارنامې، کليوال ژوند، غرونه، دَ غربت،جهالت، بې روزګارۍ مسئلې، رومانوي خيالونه او په نورو موضوعاتو خپل مټ او ژبه وازمائيل په بونېر کښې ئې دَ امن په قيام سيکيورټۍ ته خراج عقيدت پېش کړو او په يو قرارداد کښې ئې دَ امن دَ بحالۍ دپاره مرحوم ايم پي اې شمشېر علي خان او مرحوم صحافي سهېل قلندر ته پېروزوئنې وړاندې کړې او دَ هغوي په حق کښې ئې فاتحه وکړه.

دَ مشاعرې خاصه خبره دا هم وه چې پوليس افسر روشن زاده روشن ډېره موده پس په وردۍ کښې شاعر جوړ شو، سټېج ته راغے خپل کلام ئې پېش کړو. دَ پوليس وردي او شاعري څهٔ ډېره عجيبه لګي. دَ مشاعرې په ځائے کښې دَ لويو شاعرانو کتابونه هم دَ خرڅ دپاره په سټال پراتهٔ وو. يوه نوې خبره وه.

دَ مشاعرې دَ محفل مرکزي کردار اکمل لېونے ؤ چې دا خيالي مشاعرې دپاره په ټوله صوبه کښې مشهور دے.